د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

وردګ پوهنتون

# د اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی ورعاه د فرمانونو داخلي کنفرانس

## له اسلامي قيادت څخه تر شرعي، ټولنيزو، سياسي، اقتصادي او فرهنګي پرمختګونو پورې د امير المؤمنين حفظه الله تعالی ورعاه د فرمانونو اغېزې

د جوړېدو ځای: وردګ پوهنتون، ميدان وردګ ولايت- افغانستان

د جوړېدو نېټه: (۱۵- ۱۷ ميزان، ۱۴۰۴) / (۱۴-۱۶ ربيع الثانی، ۱۴۴۷)

# له اسلامي قيادت څخه تر ټولنيزو، سياسي، اقتصادي، فرهنګي او شرعي پرمختګونو پورې د اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی ورعاه د فرامينو اغېزې

## د علمي مقالو ليکلو غوښتنه

### د کنفرانس موخې

١ - په شرعي، ټولنيزو، سياسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو اغېزې.

٢ - د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرامينو حکمت، فلسفه او شرعي اساس څېړل او په دې توګه د ولس او اسلامي نظام د قيادت ترمنځ د اعتماد فضاء رامنځته کول.

٣ - د اميرالمؤمنين حفظه الله د ارشاداتو او فرمانونو په رڼا کې د اسلامي نظام تګلارې تحليلول او د پياوړتيا لپاره يې د علمي قشر مشورې، وړانديزونه او ملاتړ ترلاسه کول.

۴ - د ديني، علمي او مسلکی شخصيتونو ترمنځ د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو د اغېزو په اړه ملي مباحثه رامنځته کول.

۵ - د اسلامي حاکميت د فکري تصوير نړيواله تشرېح او د ټولنې د ټولو اړخونو په اړه د اسلامی قيادت ماهيت، ژورليد او شرعي ليدلوری روښانه کول.

### په کنفرانس کې د ګډون امتيازونه

١ - لومړی درجه غوره شوې مقالې به د لوړو زده کړو وزارت په ملاتړ په يوه نړيوالو ژورنال کې خپرې شي.

٢ - د هغو علماوو مقالې چې د ماسترۍ په ازموينو کې بريالي شوي، خو رسالې يې تر دې مهاله نه دي تکميل کړې، د دې کنفرانس منل شوې مقالې به يې د رسالې معادل محاسبه شي.

٣ - دوهمه درجه مقالې به د وردګ پوهنتون د ټولنيزو علومو په علمي ـ تحقيقي ژورنال (ورديکا) کې خپرې شي.

۴ - درېيمه درجه مقالې به د کنفرانس په عامه مجموعه کې خپرې شي.

۵ - د مقالو د ارائه کوونکو لپاره د کنفرانس په جريان کې د اوسېدو ځای او لګښتونه په پام کې نيول شوي دي.

٦ - د غوره مقاله ليکونکو او څېړونکو لپاره نقدي او غيرنقدي ډالۍ په پام کې نيول شوې دي.

### د کنفرانس اصلي محورونه

١. د امربالمعروف او نهي عن المنکر د قانون، جزائي نظام، د ملت فکري ويښتابه، اخلاقي اصلاح، فکري تزکيې، فکري استقلال او تاريخي هويت ژغورنې په برخو کې د امير المؤمنين حفظه الله د فرمانونو اغېزې.

٢. د رسنيو اسلامي او افغاني مسؤليت ساتلو، دروغجنو تبليغاتو او رسنيز فکري يرغل په وړاندې د مبارزې کولو، فرهنګي خپلواکۍ ساتلو او فرهنګي يرغل تورلو په برخه کې د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو اغېزې.

٣. د اسلامي نظام د جوړښت، سياسي مشروعيت، بهرني سياست، د نړيوال تعامل فکري اصولو او د اسلامي امت د يووالي په برخو کې د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو اغېزې او د اسلامي تاريخ په رڼا کې د هغو مقايسه او تاريخي نمونې.

۴. د اقتصادي عدالت، بيت المال، ملي ځان بسياينې، کانونو، غصب شوو ځمکو، ملي پروژو، طبيعي زيرمو، اوبو او ځنګلونو، اسلامي بانکدارۍ او سوداګرۍ په برخو کې د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو اغېزې.

۵. د ټولنيز امن او سکون په موخه د جرايمو د مخنيوي په برخه کې د امنيتي ارګانونو د شرعي مکلفيتونو په اړه د امير المؤمنين حفظه الله فرمانونه.

٦. له اړتيا سره سم د مناسبو اداري جوړښتونو رامنځته کولو، په لنډو او ساده لارو د عامه خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو او لارښوونو اغېزې.

٧. په اسلامي او شرعي چوکاټ کې د ښوونځيو او پوهنتونونو د نصابونو اصلاح او په هغو کې د اسلامي ارزښتونو او افکارو د ساتنې په اړه د اميرالمؤمنين حفظه الله د ارشاداتو اغېزې.

٨. د عصري وسايلو د مشروع استعمال، د ټولنيزو رسنيو او ډيجيټل فضا د کنټرول په برخه کې د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو اغېزې.



د هېواد په کچه د علمي کادر غړي، علماء، څېړونکي، متخصصين، مينه وال کولای شي، خپلې مقالې د لاندې برېښنايي پتو له لارې موږ ته راواستوي

0787052050- 0773805403 National.conference@wu.edu.af www.wu.edu.af

# د کنفرانس فرعي محورونه

## د کنفرانس فرعي محورونه

1.1د جزائی نظام او امر بالمعروف تر منځ همغږي او د شریعت د تنفیذ څرنګوالی

2.1 د ملت فکري ویښتابه او د اخلاقي اصلاح په برخه کې د امربالمعروف رول

3.1 د فکري تذکیې او تاریخي هویت ژغورنې لپاره د امربالمعروف بنسټیزې تګلارې

1.2 د اسلامي او افغاني رسنیزو مسؤلیتونو په اړه د امیر المؤمنین حفظه الله لارښوونې

2.2 د دروغجنو تبلیغاتو او رسنیز فکري یرغل په وړاندې د مبارزې میتودونه

3.2 د فرهنګي خپلواکۍ ساتلو او فرهنګي یرغل د مخنیوي تګلارې

1.3 د اسلامي نظام جوړښت او سیاسي مشروعیت د فرمانونو په رڼا کې

2.3 د بهرني سیاست او نړیوال تعامل فکري اصول

3.3 د اسلامي امت د یووالي تاریخي نمونې او د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو تاریخي مقایسه

1.4 د بیت المال، کانونو او طبیعي زیرمو د ساتنې او مصرف شرعي اصول

2.4 د ملي ځان بسیاینې، غصب شوو ځمکو او ملي پروژو مدیریت

3.4 د اسلامي بانکدارۍ او سوداګرۍ د پراختیا او عدالت تامین

1.5 د امنیتي ارګانونو د شرعي مکلفیتونو څرنګوالی

2.5 د جرایمو د مخنیوي لپاره د اسلامي عدلي میکانیزمونو پلي کول

3.5 د ټولنیز سکون او امن د ټینګښت لپاره عملي تګلارې

1.6 د اړتیا سره سم د مناسبو اداري جوړښتونو رامنځته کول

2.6 په لنډو او ساده لارو د عامه خدمتونو وړاندې کول

3.6 د شفافیت او اسلامي عدالت بنسټیز اصول په اداري چارو کې

4.6 د ښوونیزو نصابونو اسلامي او شرعي اصلاح

1.7 په تعلیمي ادارو کې د اسلامي ارزښتونو او افکارو ساتنه

2.7 د ښوونځیو او پوهنتونونو د نصابونو د اصلاح عملي مرحلې

1.8 د عصري وسائلو د مشروع استعمال اصول

2.8 د ټولنیزو رسنیو د کنټرول او سم مدیریت لارې

3.8 د برښنائي فضا د استفادې او اخلاقي کنټرول تګلارې.

## د اصلي او فرعي محورونو تفصیل:

د کنفرانس د اصلي او فرعي محورونو، او د مقالې لیکلو د فارمټ په اړه لا نور معلومات د بارکودونو له سکن څخه ترلاسه کولی شی.

د محورونو تفصیل

د مقالې فارمټ

## د کنفرانس مهمې نېټې

د مقالو د لنډیز راستولو وروستۍ نېټه: ۳۰/ ۰۶/ ۱۴۰۴ هـ ل.
چې له ۲۸/ ۰۳/ ۱۴۴۷هـ ق سره سمون لري.
د بشپړو مقالو د راستولو وروستۍ نېټه: ۱۰/ ۰۷/ ۱۴۰۴ هـ ل.
چې له ۰۹/ ۰۴/ ۱۴۴۷هـ ق سره سمون لري.

